
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د رسامۍ هنر

## څلورم ټولگی



د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ ش



درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري
په بازار کې یې اخیستنه او خرڅونه په کلکه منع ده.
له سر غړونکو سره قانوني چلن کیږي.

moe.curriculum@gmail.com



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
کور د سولې کور د تورې
دا وطن د ټولو کور دی
د پښتون او هزاره وو
ورسره عرب، گوجر دي
براهوي دي، قزلباش دي
دا هیواد به تل ځلیږي
په سینه کې د آسیا به
نوم د حق مو دی رهبر

دا عزت د هر افغان دی
هر بچی یې قهرمان دی
د بلوڅو د ازبکو
د ترکمنو د تاجکو
پامیریان، نورستانیان
هم ایماق، هم پشه یان
لکه لمر پر شنه آسمان
لکه زړه وي جاویدان
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحیم

**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو د
روزنې معنیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د
تالیف ریاست

# د رسامۍ هنر

## څلورم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ.ش.

**مؤلفان**

- محمد ظاهر طاهری
- سید انور میچنخیل
- نفیسه پوپلزی

**د بیا کتنې کمیټه**

- سید انور میچنخیل
- نفیسه پوپلزی
- د سر مؤلف معاون محمد غالب الله

**علمي او مسلکي اډیټور**

- نادر علي یوسفي د هنرونو دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی

**د ژبې ایډیټ او ژباړه**

- محمد قدوس زکوخیل

**دیني، سیاسي او فرهنگي کمیټه**

- حبیب الله راحل د تعلیمي نصاب د پراختیا په لوی ریاست کې، د پوهنې وزارت سلاکار
- مؤلف مولوی عبدالوکیل

**د څارنې کمېټه**

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین.
- دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.
- دکتور محمد یوسف نیازي د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست سرپرست.

**طرح او ډیزاین**

- محمد اشرف امین
- احمد فرهاد نوری

**د چاپ د سمون چارې**: محمد کبیر حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رئیس

# بسم الله الرحمن الرحیم
# د پوهنې د وزیر پیغام

د لوی خدای ډېر شکر دی چې انسان یې په احسن تقویم پیدا او هغه ته یې د خبرو کولو توان ورکړ او د علم او فکر پر گاڼه یې سمبال کړ. ډېر درود دې وي د اسلام پر گران پیغمبر حضرت محمد مصطفی ﷺ چې د انسانیت ستر ښوونکی او د رحمت، لارښوونې او روښنایی پیغام راوړونکی دی.

ښوونه او روزنه په هره ټولنه کې د بدلون او پراختیا بنسټ دی. د ښوونې او روزنې اصلي موخه د انسان د بالقوه ځواکونو فعالول او د هغه د پټو استعدادونو غوړول دي.

درسي کتاب د ښوونې او روزنې په بهیر کې یو مهم رکن بلل کیږي چې له نوو علمي بدلونونو او پرمختگونو سره اوږه په اوږه د ټولنې له اړتیاوو سره سم تالیف کیږي. درسي کتابونه باید د منځپانگې له مخې خورا بډای وي چې وکړای شي د علومو له نوو لاسته راوړنو سره مل، دیني او اخلاقي زده کړې د نوو میتودونو له لارې زده کوونکو ته ولیږدوي.

دغه کتاب چې اوس ستاسو په واک کې دی، د همدغو پورته ځانگړنو پر بنسټ چمتو او تالیف شوی دی. د پوهنې وزارت تل زیار باسي چې په هیواد کې تعلیمي نصاب او درسي کتابونه د اسلامي ښوونې او روزنې او د ملي هویت د ساتلو پر بنسټ جوړ او له علمي معیارونو، نوو روزنیزو میتودونو او د نړۍ له علمي پرمختگونو سره سم چمتو کړي. د زده کوونکو استعدادونه په ټولو اخلاقي او علمي خواوو کې وغوړوي او په هغوی کې د تفکر او نوښت توان او د پلټنې حس پیاوړی کړي. د خبرو اترو او پیرزوینې د فرهنگ دودول، د هیواد پالنې او د مینې او محبت د حس پیاوړی کول، ښېنه او پیوستون د پوهنې د وزارت نورې غوښتنې دي چې ښایي د لوست په کتابونو کې ورته پام وشي.

درسي کتابونه د ښه او مسلکي ښوونکي له درلودو پرته نشي کولای ټاکل شوې موخې ترلاسه کړي. ښوونکی د ښوونې او روزنې یو مهم جزء او د ښوونې او روزنې د پروگرامونو پلي کوونکی دی. د هیواد له ژمنو او زړه سواندو ښوونکو څخه، چې د تورتم او ناپوهی په وړاندې یې جگړه خپله دنده گرځولې، دوستانه هیله لرم چې د تعلیمي نصاب په دقیق او مخلصانه تطبیق کې د هیواد ماشومان، نجونې او تنکي ځوانان د پوهې، اخلاقو او معنویت لوړو څوکو ته ورسوي.

د هیواد د زده کړې د نظام برې د خلکو له جدي مرستو پرته امکان نه لري. له دې امله له ټولو قشرونو او د ملت له شریفو خلکو، په تیره بیا له کورنیو او د زده کوونکو له درنو اولیاوو څخه هیله لرم چې د معارف د موخو د لاسته راوړو په برخه کې له هیڅ ډول مرستې څخه ډډه ونه کړي. دغه راز له ټولو لیکوالو، پوهانو، د ښوونې او روزنې له ماهرینو او د زده کوونکو له محترمو اولیاوو څخه هیله کیږي چې په خپلو رغنده نظرونو، وړاندیزونو او نیوکو د درسي کتابونو په لاښه والي کې د پوهنې له وزارت سره مرسته وکړي.

لازمه بولم له ټولو ښاغلو مؤلفانو، د پوهنې وزارت له اداري او فني کارکوونکو او له ملي او نړیوالو بنسټونو څخه، چې د دغه کتاب په چمتو کولو، چاپولو او ویش کې یې زیار ایستلی او مرسته یې کړې، مننه وکړم.

په پای کې له لوی خدای ﷻ څخه غواړم چې په خپله بې پایه مهرباني له موږ سره د پوهنې د سپیځلو ارمانونو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي. انه سمیع قریب مجیب.

د پوهنې وزیر

دوکتور اسدالله حنیف بلخي

# فهرست


| د لوست شمېره | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | د خټکي رسمول | ۱ |
| ۲ | د خټکي رنګول | ۳ |
| ۳ | د پیل د سر رسمول | ۵ |
| ٤ | د پیل د سر رنګول | ۷ |
| ۵ | د تور بانجان رسمول | ۹ |
| ٦ | د تور بانجان لاسي کار | ۱۱ |
| ۷ | د مڼې او پاڼې رسمول | ۱۳ |
| ۸ | د ونې او پاڼې رسمول | ۱۵ |
| ۹ | د مڼې او ونې رسمول | ۱۷ |
| ۱۰ | رومی بانجان | ۱۹ |
| ۱۱ | د مرغانو سر | ۲۱ |
| ۱۲ | د مرغانو رسمول | ۲۳ |
| ۱۳ | مرغان | ۲۵ |

| د لوست شمېره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱٤ | د لاسي کار جوړول | ۲۷ |
| ۱۵ | د څاروي د سر رسمول | ۲۹ |
| ۱٦ | د آس د سر رسمول | ۳۱ |
| ۱۷ | د آس د سر رنګه کول | ۳۳ |
| ۱۸ | د انګور د وږي رسمول | ۳۵ |
| ۱۹ | د انګور د وږي رنګه کول | ۳۷ |
| ۲۰ | د پتنګ رسمول | ۳۹ |
| ۲۱ | د نوښتګرو انځورونو جوړول | ٤۱ |
| ۲۲ | د پاڼې ډیزاین | ٤۳ |
| ۲۳ | د ګلونو نوښتګر ډیزاینونو | ٤۵ |
| ۲٤ | د ګلو ډیزاین رسمول | ٤۷ |
| ۲۵ | خیالي رسم | ٤۹ |
| ۲٦ | له طبیعی موادو څخه نوښتګر جوړول | ۵۱ |
| ۲۷ | د رنګونو په واسطه نوښتګر انځورونه | ۵۳ |
| ۲۸ | د کاغذي ګلانو جوړول | ۵۵ |
| ۲۹ | دوه بې طرفه رنګونه | ۵۷ |
| ۳۰ | د خیالی رسمونه | ۵۹ |
| ۳۱ | دویمه برخه: د رسامۍ هنر د تدریس لارښود | ٦۱ |

لومړی لوست ۱

# د خټکي رسمول

**موخه**


د بهرنيو خطونو په واسطه چې پر نرم پنسل پرداز شوي وي، د خټکي له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتيا.

**پوښتنې:** • پرله پر پرلو مو کله خټکی رسم کړی دی؟
• کله مو پر پنسل خټکی رسم کړی دی؟



دويم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې د بهرنیو خطونو په پام کې نیولو سره پړاو په پړاو خټکی رسم کړې، په پنسل دې پرداز ورکړې، روښانه برخې او تیاره دې ښکاره کړې.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده



زده کوونکي دې خټکی رسم، په پنسل دې پرداز او انځور دې روښانه کړې.

لوست ۲

# دخټکي رنګول

**موخه**


زده کوونکي به د خټکي پر رسمولو او رنګولو پوه شي.

**پوښتنې:** • آیا د خټکي د شکل، رسمولو او رنګولو په اړوند څه ویلی شئ؟
• خټکی کوم رنګونه لري؟




دویم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې د پنسل په واسطه پر کمزورو خطونو د ښوونکي له لارښوونې سره سم لاندې انځور رسم، له بشپړیدو وروسته دې یې پړاو پر پړاو رنګ کړي.



لومړی انځور



**کورنۍ دنده**

پر کمزورو خطونو خټکی رسم، وروسته یې رنګه کړئ.


درس ۳

# د پیل د سر رسمول

**موخه**


د پیل د سر له جوړښت او رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:** • کله مو د پیل سر پر پنسل رسم کړیدی؟
• تاسو ویلای شئ چې د پیل سر څنګه رسموئ؟



دویم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې په ډلووویشل شي، هره ډله دې پړاو په پړاو د پيل د سر د رسمولو په اړوند فکر وکړي. هغه دې د ښوونکي له لارښوونې او لاندې انځور سره سم رسم کړي، يوه ډله دې خپل کار بلې ډلې ته ور وښيي.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده

د پيل سر دې د درسي کتاب له مخې رسم کړي، بله ورځ دې ټولګي ته راوړي.

څلورم لوست

# د پیل د سر رنګول


**موخه**: دباندینو خطونو په پام کې نیولو سره د پیل سر له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:** • پیلان په کومو ځایونو کې ژوند کوي؟
• زموږ په ګران هیواد کې پیلان شته؟
• لومړی د پنسل په واسطه د پیل د سر رسمول له کوم پړاو څخه پیلوئ؟




دویم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې له ځوابونو ورکولو وروسته په ژوري پاملرنې سره پړاو پر پړاو د پیل سر رسم، وروسته دې رنګه کړي، د انځور د رسمولو پر وخت کې دې له ښوونکي مرسته وغواړي.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده



د درسي کتاب له مخې د پیل سر رسم او هغه رنګه کړئ.

لوست ۵

# د تور بانجان رسمول


**موخه**: د پنسل په واسطه د تور بانجان له رسمولو او پرداز سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**:
- د تور بانجان په رسمولو کې له کومو وسایلو ګټه اخلئ؟
- کله مو تور بانجان رسم او پرداز کړیدی؟



دریم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې په ټولګې کې له مشورې وروسته لاندې انځور پړاو پر پړاو رسم کړي، وروسته دې خپل رسمونه نورو ډلو ته وروښيي، چې د رسامۍ او نقاشۍ له هنر سره يې مينه زياته شي.



لومړی انځور



دويم انځور

## کورنۍ دنده



زده کوونکي دې له پورتني رسم سره سم څو وارې هغه رسم کړي.

# شپږم لوست

# د تور بانجان لاسي کار


**موخه:** د تور بانجان د لاسي کار د جوړولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:** • څنګه کولای شئ له ساده موادو څخه تور بانجان د لاسي کار په بڼه چوړ کړئ؟
• د کومو رنګونو په واسطه تور بانجان رنګوئ؟



دویم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې له ښېلا ښېلو موادو لکه: کاغذ، موم او بې کاره کاغذونو څخه د تور بانجان د لاسي کار لپاره کار واخلئ، دښوونکي له لارښوونو دې ګټه واخلي.





لومړی انځور

## کورنۍ دنده

له سبزیو څخه یوه د پنسل په واسطه رسم او پرداز کړئ.




# لوست ۷

# د منې او پاڼې رسمول


**موخه**: پر پنسل د منې او پاڼې له رسمولو او رنګه کولو سره د زده کوونکو بلدتیا

**پوښتنې**: • کله مو منه پر پنسل رسم او رنګه کړېده؟
• د پاڼې په رسمولو کې له کومو رنګونو څخه ګټه اخلئ؟




دریم انځور

**فعالیت:** کله چې ښوونکي منه او پاڼه پر تختې رسموي، زده کوونکي دې ژوره پاملرنه وکړي له تختې څخه دې د منې او پاڼې د رسمولو پر وخت د ښوونکي کړه وړه په پام کې ونيسي، بیا دې د هغه په څېر رسم او رنګه یې کړئ.



لومړی انځور



دویم انځور

## کورنۍ دنده



زده کوونکي دې له خپلې خوښې سره سم منه او پاڼه رسم او رنګه کړي.

# ۸ لوست

# د ونې او پاڼې رسمول

**موخه:** زده کوونکو ته د ونې او پاڼې د رسمولو او رنګولو طریقو ور زده کول.

**پوښتنې:** • د ونې په رسمولو کې له کومو رنګونو ګټه اخلئ؟
• ستا په فکر د کومې پاڼې رسمول اسان دي؟



دریم انځور



**فعالیت:** زده کوونکي پر ډلو وویشئ هره ډله دې لاندې انځورونو او د تختې پر مخ رسم ته په پاملرنې سره پخپلو منځو کې مشوره وکړي او د هغې طرحې د رسمولو په اړوند دې معلومات حاصل، بیا دې هغه رسم کړي.



لومړی انځور



دویم انځور

## کورنۍ دنده



زده کوونکي دې له خپلې خو ښې سره سم د ونې او پاڼې انځورونه رسم او رنګه کړي.

# لوست ۹

# د منې او ونې رسمول

**موخه**


د منې او ونې د رنګولو له طریقې سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:**


- د منې او پاڼې په رنګونو کې څه توپیر دی؟؟
- په لاندې انځور کې څه وینئ؟



دریم انځور



**فعالیت:** زده کوونکي دې لاندې انځورو نو ته ژوره پاملرنه وکړي، هغه دې د کمزورو خطونو په واسطه رسم کړي، وروسته دې رنګه کړي، ښوونکی دې د رنګولو په اړوند له هغوی سره مرسته وکړی.



لومړی انځور



دویم انځور

## کورنۍ دنده




زده کوونکي دې د مڼې او ونې د رنګولو په اړوند فکر وکړي بیا دې هغه رسم او رنګه کړي.

## لوست ۱۰

# رومي بانجان


**موخه**: د باندنیو خطونو په واسطه د رومي بانجان له رسمولو او رنګه کولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:** • د رومي بانجان په رنګولو کې له کوم رنګ څخه کار اخلئ؟
• کله مو رومي بانجان رسم او رنګه کړی دی؟



دریم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې په ژورې پاملرنې رومي بانجان رسم او په رنګولو کې دې له مناسبو رنګونو څخه ګټه واخلي، که چیرې رسم په ټولګي کې بشپړ نه شو، په کور کې يې بشپړ کړئ.



لومړی انځور



دويم انځور

## کورنی دنده



زده کوونکي دې یو تور بانجان پر پنسل رسم او بیا دې په کتابچو کې رنګه کړي.


لوست ۱۱

# د مرغانو سر

**موخه**

د مرغانو د سر له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:** آیا تاسو کله د کومې مرغۍ سر رسم او نګه کړی دی




دریم انځور

**فعالیت:** د هرې ډلې زده کوونکي دې له خپلې خوښې سره سم یو انځور رسم، روښانه برخه او تیاره دې دپرداز په واسطه وښیي، وروسته دې هغه رنګه کړي او نورو ټولګیوالو ته دې ورښکاره کړي.



لومړی انځور



دویم انځور

## کورنۍ دنده




له مرغانو څخه د یوه مرغه سر رسم او تمرین کړئ.

لوست ۱۲

# د مرغانو رسمول

**موخه**: د رسمولو (سکیچ) کولو له طریقې او د روښانه برخې او سیورې له پرداز سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:**
- په لاندې انځور کې کوم مرغه لیدلای شئ؟
- راتلونکی انځور څنګه رسم او پرداز کوئ؟



دویم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې له خپلې خوښې سره سم د مرغانو یو انځور رسم، وروسته دې د ښوونکي په لارښوونه پرداز کړي، هڅه دې وشي، چې تناسب په پام کې ونیول شي.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده



زده کوونکي دې پخپلو کتابچو کې یو مرغه پر پنسل رسم او پرداز کړي، بیا دې ټولګي ته راوړي.


# لوست ۱۳

# د الوتونکي رنګ کول

**موخه**


د الوتونکو له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:** • د مرغانو په رنګولو کې له کوم رنګ څخه ګټه اخلئ؟
• آیاتاسو ویلای شئ چې الوتونکی څنګه رسم او رنګه کیږي؟



دویم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې لاندیني انځور ته ژوره پاملرنه وکړي، هغه دې د کوچینوالی او لویوالي په پام کې نیولو سره رسم او بیا دې رنګه کړي.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده



زده کوونکي دې پخپلو کتابچو کې یو الوتونکی رسم او رنګه کړي.

## ۱٤ لوست
# لاسي کار

**موخه**: له ساده سیمه ییزو موادو څخه د لاسي کار جوړولو له طریقې سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنه:** د هغو موادو نوم واخلئ چې په لاسي کار کې ور څخه ګټه اخلئ؟




ځلورم انځور


**فعالیت:** زده کوونکي دې په لومړي ګام کې لویوالی او کوچولوالی په پام کې ونیسي، د الوتونکو اسکلیت بندي دې له بشپړېدو وروسته، د ښوونکي له لارښوونې سره رسم او رنګه کړي.



لومړی انځور



دویم انځور



دریم انځور

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له ساده سیمه ییزو موادو څخه یو لاسي کار جوړ او بیا دې ټولګي ته راوړي.

# لوست ۱۵

# د پسه د سر رسمول

**موخه**

د پسه د سر له رسمولو او رنگولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:** • آیا پوهیږئ لاندې انځور د کوم حیوان دئ؟
• آیا کله مو دیوه پسه سر رسم او رنگ کړیدی؟



دریم انځور

**فعالیت**

زده کوونکي دې له لاندینیو انځورونو څخه د یوه انځور تناسب په پام کې ونیسي، بیا دې پر پنسل رسم، وروسته دې بشپړ او پرداز کړي.



لومړی انځور



دویم انځور

**کورنۍ دنده**



زده کوونکي دې د پسه سر د کتاب له مخې رسم او رنګه کړي.


# لوست ۱٦
# د آس د سر رسمول

**موخه**

له بېلا بیلو اړخونو څخه د آس د سر سکیچ او رسمول.

**پوښتنې:** • آیا کله مو د آس سر رسم کړی دئ؟


• په لاندینیو انځورونو کې څه وینئ؟



دویم انځور

**فعالیت**

زده کوونکي دې دآس سر د یوه حرک پر وخت له خپلې خوښې سره سم رسم کړي.



لومړی انځور

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې د آس دسر یو حرکت غوره، بیا دې هغه رسم او پرداز کړي



# لوست ۱۷
## د آس د سر رنگه کول

**موخه**

د آس د سر له رسمولو او رنگولو سره د زده کوونکو بلدتیا.


**پوښتنې:** • هغه رنگونه چې د آس په سر کې یې وینئ د کومو رنگونو له ترکیب څخه تر لاسه شویدي؟
• په لاندې انځور کې کوم رنگونه وینئ؟



دویم انځور

**فعالیت**

زده کوونکي دې لومړی د آس سر رسم، وروسته دې رنګه کړي او هڅه دې وکړي له شکل سره سم رنګه شي.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده



د آس سر په کور کې رسم او رنګه کړئ.

# لوست ۱۸

# د انګورو د وږي رسمول

**موخه**: زده کوونکي به د انګورو د وږي د رسم (سکیچ) په طریقه وپوهیږي.

**پوښتنې:** • څو ډوله انګور رسمولای شئ؟
• کله مو د انګور ډولونه لیدلي او هغه مو رسم کړیدي؟



دویم انځور

**فعالیت**

لاندې رسم وګورئ، لومړی یې بهرني خطونه رسم، بیا یې په پنسل تت پرداز کړئ او انځور روښانه بر جسته کړئ.



لومړی انځور

**کورنۍ دنده**


د انګورو وړی رسم او پرداز کړئ.

لوست ۱۹

# د انګورو د وړې رنګول

**موخه**: د انګورو دوړې د رسمولو او رنګولو له طریقو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:** • څو رنګه انګور مو لیدلي او رنګ کړیدي؟
• د انګورو د وړې یه رسمولو او رنګولو کې له کومو وسایلو ګټه اخلئ؟



دویم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي پر ډلو وویشئ، د لاندې انځور په رنګولو کې دې یو له بل سره مشوره وکړي، وروسته دې بشپړ شوي کارونه د ټولګیوالو په وړاندې ننداړې ته وړندې کړي.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده

د انګورو د وړې رنګول په پام کې ونیسئ، هغه رسم کړئ.

لوست ۲۰

# د پتنگ رسمول

**موخه**

د پتنگ د رسمولو او رنگولو په طرز د زده کوونکو پوهيدل.


**پوښتنې:** • پتنگ کوم رنگونه لري او کله مو هغه رسم کړيدی؟

• په لاندې انځور کې کوم رنگونه وينئ



پنځم انځور


**فعالیت:** زده کوونکي دې له خپلې خوښې سره سم له لاندې انځورونو څخه یو رسم کړي، وروسته دې رنګ کړي، په ټولو برخو کې دې د ښوونکي لارښوونې په پام کې ونیسي.



لومړی انځور



دویم انځور



دریم انځور



څلورم انځور

## کورنۍ دنده



له کاغذ یا نورو موادو څخه یو پتنګ جوړ کړئ.

لوست ۲۱

# د نوښتګرو انځورونو جوړول

**موخه**: د لاس د ګوتو او رنګ په واسطه د نوښتګرو انځورو له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:** په لاندې انځورونو کې کوم یو رنګ وینئ؟



دویم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې لاندې انځورونه د لاس د ګوتو او رنګ په واسطه د کاغذ پر مخ کار کړي، دخطونو د ور زیاتیدو په واسطه دې له هغې څخه د کتاب په شان ډول ډول شکلونه جوړ کړئ، داسې انځورونه چې تاسې یې وینئ، له خپلې خوښې سره جوړ کړئ.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده

پر یوه ابتکاري انځور کار وکړئ او بیا یې ټولګي ته راوړئ.

# ۳۳ لوست

# د پاڼې ډیزاین


**موخه**: زده کوونکي به له ساده محیطي موادو څخه د بېلا بېلو ډیزانو نو له جوړولو او رنګولو سره بلد شي.

**پوښتني**:
- له خپل محیط څخه د یوه ډیزاین جوړولو لپاره کوم مواد غوره کوئ؟
- تر اوسه مو اسلامي سبک ډیزان لیدلی او رسم کړیدئ؟




دریم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې سر بیره پر لاندینیو ډیزاینونو، ځنې ډیزاینونه چې له ټولګي ځخه له باندې شتون لري له خپلې خوښې سره سم رسم او جوړکړي، بله ورځ دې د ټولګیوالو په وړاندې ننداري ته وړاندې کړي، ښوونکی دې د دوی کارونه و ارزوي.



لومړی انځور



دویم انځور

## کورنۍ دنده

یو دیزاین جوړ او هغه ښوونکي ته وښیي.

لوست ۳۳

# د ګلانو نوښتګر ډيزاينونه

**موخه:** له سيمه ييزو موادو څخه له نوښتګرو ډيزاينونو سره د زده کوونکو بلدتيا.

**پوښتنې:** • آيا تاسو ويلای شي،له کومو محيطي موادو څخه ډيزانونه جوړيږي
• په لاندې انځور کې څه شيان وينئ؟



دويم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي چې کوم انځور جوړ او یا ډیزاینوي، پر هغه دې فکر وکړي په پوره پاملرنې دې هغه جوړ کړي، سر بیره پر لاندې انځور، کولای شي هغې ته په پاملرنې سره په خپله خوښه نور انځورونه هم ډیزاین او رسم کړي.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له خپلې خوښې سره سم له سیمه ییزو موادو څخه یو ډیزاین جوړ او ټولګي ته راوړي.



لوست ۲٤

# د ګل د ډيزاين رسمول

**موخه**

زده کوونکي به دډيزاين لپاره د رنګونو په غوره کولو وپوهيږي.


**پوښتنې:** • د ګل په ډيزاين کې له کومو رنګونو څخه ګټه اخلئ؟

• د ګلانو له رنګولو څخه څه ډول احساس کوئ؟




دريم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې لاندې شکلونه پړاو پر پړاو رسم وروسته دې هغه رنګه کړي، د رنګولو پر وخت دې له ښوونکي مرسته وغواړي او خپل بشپړ شوي کارونه دې د ارزونې لپاره ښوونکي ته ورکړئ.



لومړی انځور



دویم انځور

## کورنۍ دنده

ډول ډول ډیزاینونه په کور کې رسم کړئ او بیا یې رنګه کړئ.

لوست ۲۵

# د طبیعي منظرو رسمول

**موخه**

د خیالي شکلونو له جوړولو او رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتني:** • کله مو یو انځور له خپله ځانه او خپل ذهن څخه رسم او رنګه کړیدی؟
• د خیالي انځورنو په رسمولو کې له کومو وسایلو ګټه اخلئ؟



دریم انځور

**فعالیت:** د انځورونو د رسمولو په هکله دې زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونو څخه معلومات تر لاسه کړي، د خیالي رسمونو په پام کې نیولو سره دې یو انځور له خپله ذهنه رسم او هغه دې رنګه کړي.



لومړی انځور



دویم انځور

## کورنۍ دنده



زده کوونکي دې د خیالي رسمولو په اړوند په کورونو کې ژور فکر وکړي، وروسته دې هغه رسم او رنګه کړي.

لوست ۳۶

# له طبیعي موادو څخه نوښتګر انځور

**موخه**: له طبیعی موادو څخه د نوښتګرو انځورونو له طرحې سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:** • آیا تراوسه مو نوښتګر انځورونه جوړ کړیدي؟
• څه شي د استعدادونو د پراختیا لامل کیږي؟



څلورم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې پر لاندینیو انځورونو سربیره یو نوښتگر انځور هم جوړ کړي او خپل بشپړ شوی کار دې نوروته ور ښکاره کړي، چې د دوی په کارونو کې د پر مختگ لامل شي، که له ستونزې سره مخامخ شوی، له ښوونکي مرسته وغواړئ.



لومړی انځور



دویم انځور



دریم انځور

## کورنۍ دنده

په کور کې نوښتگر شکلونه رسم کړئ.

# لوست ۲۷ د رنګونو په واسطه نوښتګر انځورونه

**موخه**: له هغو موادو څخه چې په واک کې یې دي، دنوښتګرو انځورونو له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**: • هغه مواد چې ابتکاري شکلونه ترې جوړېدلی شي کوم دي؟
• د چاپېریال له موادو څخه کوم شیان جوړ ولی شئ؟




دویم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي کولای شي له هغو موادو څخه چې لاس رسی ورته لري، لاندي انځورونه جوړ کړي، له هغه څخه په ګټې اخیستنې سره ښيني انځورونه لکه: ګل، ونه، غر د نوښتګرو انځورونو په بڼه د رنګ او یا د صفحې پر مخ د رنګ د پو کولو په واسطه رامنځ ته کړي او ښکلي انځورونه دې جوړ کړي.






لومړی انځور







## کورنۍ دنده



زده کوونکي دې په خپله خوښه نوښتګر انځور رسم او ټولګي ته دې راوړئ.

## لوست ۲۸

# د کاغذي ګلانو جوړول

**موخه**

له کاغذ څخه د ګلانو له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:** • له سپین او رنګه کاغذ څخه کوم شیان جوړولای شئ.

• له کاغذ څخه د ګلانو د جوړولو پر وخت څه احساس کوئ؟



دویم انځور

**فعالیت:** د لاندې انځور پراوونو ته ژوره پاملرنه وکړئ، د کتاب له لاربښوونې او نمونې سره سم په کتاب کې د کاغذي ګلانو انځورونه لومړی د سپین او رنګه کاغذ پر مخ رسم او بیا یې بیاتي کړئ او دبل سپین کاغذ پر مخ يې سریښ کړئ چې يو ډول کاغذي ګلان له هغه تر لاسه شي.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده




په کورکې له مور او پلار څخه د کاغذي ګلانو په جوړولو کې وغواړئ.

## لوست ۲۹

# دوه بې طرفه رنګونه

**موخه:** له دوو بې طرفو رنګونو څخه په ګټې اخیستنې سره د انځورونو له رنګولو سره د زده کوونکو بلدتیا.


**پوښتنې:**
- له بې طرفو رنګونو څخه په نقاشۍ کې څه وخت ګټه اخیستل کېږي؟
- په لاندې انځورونو کې د بې طرفه رنګونو نمونه واخلئ؟



سپین — تور

## فعالیت

زده کوونکي دې د دوو بې طرفو رنګونو له ترکیب څخه دریم رنګ ترلاسه کړي، نوم دې واخلي.




### کورنۍ دنده


زده کوونکي دې دوه بې طرفه رنګونه سره ترکیب کړي.

لوست ۳۰

# خيالي رسمونه

**موخه**: زده کوونکي به له خيالي انځورونو سره چې د دوی په خیال کې را ګرځي، د کاغذ پر مخ له طرحې سره بلد تيا پيدا کړي.

**پوښتنې:** د خيالي شکلونوله جوړيدو وروسته څه احساس درته پيدا کيږي؟



**فعالیت:** زده کوونکي دې مخکې له دې چې انځورونه جوړکړي، لاندې انځور ته ژور وګوري د څو دقیقو لپاره په ژورې پاملرنې سره د نوښتګرو انځورونو په باره کې فکر وکړئ او وروسته یې عملي کړئ.



لومړی انځور



دویم انځور

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې د کتاب له انځور څخه په ګټې اخیستنې سره یو خیالي رسم له خپل فکر رسم او ټولګي ته دې راوړي.

# دویمه برخه

## د رسامۍ هنر د تدریس لارښود

# لوست ۱

## (۱ او ۲) مخونه

**د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه)** **لومړی ساعت**

| | |
|---|---|
| د لوست عنوان | د خربوزې رسم |
| عمومي موخې | د پنسل په واسطه د خټکي له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتیا. |
| -دزده کړې موخې<br>- پوهنیزې<br>- مهارتي<br>- ذهنیتي | له زده کوونکو هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخې ترلاسه کړي.<br>- زده کوونکي به د پنسل په واسطه د خټکي له رسمولو او رنګولو سره بلد شي.<br>- زده کوونکي به دپنسل په واسطه خټکی رسم او رنګه کړای شي.<br>- زده کوونکو به پر پنسل د خټکي له رسمولو او رنګولو سره مینه پیدا کړي. |
| د تدریس طریقه | ځانګړې او ډله ییز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه، عملي کار او تمرین |
| د تدریس وسیلې | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل پاک، تباشیر، برس او دنقاشي مویک، د رنګ قطی او د اوبو لوښی |
| ارزونه | له زده کوونکو څخه د ارزونې په موخه پوښتنې وکړئ. |

| | | |
|---|---|---|
| لومړني فعالیتونه | سلام، لنډه احوال پوښتنه، د نوي کال مبارکي، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، د دریم ټولګي د درسونو یا دونه او درسامی هنر. | ۵ دقیقې |
| | انګیزوي پوښتنې:<br>کله مو خټکی رسم او رنګه کړیدی؟ | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | وخت |
| --- | --- |
| • زده کوونکوو ته د لوست په اړوند لارښوونه وکړئ.<br>• ختېکی پر تختې رسم او د پړاوونو په اړوند یې زده کوونکو ته توضیحات ورکړئ.<br>• دپنسل په واسطه د رسمولو د وروستي پړاو په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکړئ.<br>• د ختېکي درنګولو په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ.<br>• د زده کوونکو کارونه وڅارئ.<br>• د دوی د ترسره شوو کارونو ارزونه وکړئ او دوی د هڅونې لپاره یې پردیوال ځوړند کړئ. | وخت<br>۳۵ دقیقې |

**کورنۍ دنده**

د کتاب له رسمونو څخه په ګټه اخیستلو ختېکی رسم او رنګه کړئ او بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

**اضافي معلومات**

ښاغلې ښوونکی: تا سو تېر کال د رسامۍ د هنر مضمون، لاسي کارونه، ډیزانونه او د رسمونو د رسمولو طریقې، خیالي رسمونه زده کوونکو ته تدریس کړي وو، د څلورم ټولګي د رسامۍ هنر په مضمون کې هڅه شویده، چې په لږ توپیر سره لاسي کارونه لکه: ډیزاینونه او نوښتګر رسمونه او نور په نوموړی کتاب کې ځای پر ځای کړای شي، چې په ډیرې حوصلې سره خپلو زده کوونکوته د درسونو او پوښتنو په اړوند ځواب ووایې او ستونزې ورته حل کړي.

د دې کتاب لومړی لوست ختېکي په اړه باید یادونه وکړو، لومړی په ضعیف ډول ختېکی د کاغذ پر مخ پر پنسل رسم، وروسته یې د رنګ د مویک، د نقاشی د برس په واسطه رنګ کړئ.

د نقاشي او رنګه کولو پر وخت دې هڅه وشي چې تیاره او روښانه برخې په پام کې ونیول شي او په انځور کې دې وښیي.

پرداز یوه هنري اصطلاح ده چې د پنسل په واسطه په انځور کې تیاره او روښانه برخې پکې ښودل شوي وي چې د پرداز په نوم یادیږي، چې تیاره او روښانه برخې پکې ښودل کیږي.

لوست ۳

# (۵ او ٦) مخونه

د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه)　　　　لومړی ساعت

| | | |
|---|---|---|
| د لوست عنوان | د پیل د سر رسمول | |
| عمومي موخې | پر پنسل د پیل سر له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا | |
| -دزده کړې موخې<br>- پوهنیزې<br>- مهارتي<br>- ذهنیتي | له زده کوونکو هیله کیږي چې دلوست په پای کې لاندې موخې ترلاسه کړي.<br>- زده کوونکي به دپیل سر له رسمولو سره بلد شي.<br>- د حیواناتو له رسمولو سره به مینه پیدا کړي.<br>- د پیل سر به رسم کړای شي. | |
| د تدریس طریقه | ځانګړې او ډله ییز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه، عملي کار او تمرین | |
| د تدریس وسیلې | د رسامۍ هنرکتاب، پنسل، پنسل پاک، تخته، تباشیر او رنګ | |
| ارزونه | د ارزونې لپاره له خو زده کوونکو پوښتنې کوي. | |
| لومړني فعالیتونه | سلام، لنډه احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، دحاضرۍ اخیستل، دکورنۍ دندې له سمونې وروسته له تېر لوست سره په اړیکه کې پر نوي لوست پیل کوي. | ۵ دقیقې |
| | انګیزوي پوښتنې:<br>کله مو دپیل سر پر پنسل رسم کړیدې؟ | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | وخت |
| --- | --- |
| د لوست رسم پر تختې داسې رسم کړئ چې زده کوونکي ستاسې دلاس حرکت وګوري.<br>• درسم پړاوونه بېل بېل زده کوونکوته ور وښيې.<br>• پر تختې دسکيچ کولو په اړوند ور سره مرسته وکړئ.<br>• د رنګولو په اړوند هغوې ته معلومات ورکړئ.<br>• د دوی د رسمونو څارنه وکړئ.<br>د لوست په پای کې د هغوې د رسمونو ارزونه وکړئ. | ۳۵ دقیقې |

| **کورنۍ دنده** |
| --- |
| يو وار بيا په کورونو کې د پيل سر رسم او ټولګي ته راوړئ. |

| **اضافي معلومات** |
| --- |
| د دوې پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ. هغوی په دې وپوهوئ چې پيلان په ځينو هيوادونو لکه: هندوستان، کانګو، افريقا، د آسيا په جنوب ختيځ کې او په د برما په ځنګلي سيمو کې ژوند کوي، افغانستان کې يو پيل په باغ وحش کې ساتل کيدو، چې له يو بل هيواد څخه يې راوړی و؟<br>سکيچ يوه هنري اصطلاح ده، داسې تعريف کيدای شي، د يوه شکل د بهرنيو خطونو رسمولو ته سکيچ وايي، لکه: چې د پيل سر په رسمولو کې لومړي يې بهرني خطونه په پنسل ضعيف رسم کيږي، وروسته يې د سيورې او روښانه برخې پر پنسل پرداز کيږي، همدا رنګه دپيل سردرسمولو له بشپړيدو وروسته يې د پنسل په واسطه رنګوو چې د دې کتاب په دريم او څلورم لوست کې د هغو زده کړې په اړوند لارښوونه شويده. |

## ۱۲ لوست

# (۲۳ او ۲۴) مخونه

د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه) لومړی ساعت

| | | |
|---|---|---|
| د لوست عنوان | د الوتونکو رسمول | |
| عمومي موخې | د پنسل په واسطه د الوتونکو له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا. | |
| -دزده کړې موخې<br>- پوهنيزې<br>- مهارتي<br>- ذهنيتي | له زده کوونکو هیله کیږي چې دلوست په پای کې لاندې موخې ترلاسه کړي.<br>- زده کوونکي به پر پنسل د الوتونکو له رسمولو سره بلد شي.<br>- د الوتونکو انځور به رسم کړای شي.<br>- پر پنسل به د الوتونکو له رسمولو سره مینه پیدا کړي. | |
| د تدریس طریقه | ځانګړي او ډله ییز فعالیتونه، عملي، پوښتنې او ځوابونه، عملي کار او تمرین | |
| د تدریس وسیلې | د هنرکتاب، پنسل، پنسل پاک، قلم، کتابچه، کاغذ، تخته، تباشیر، د نقاشي برس او د رنګ بوتل. | |
| ارزونه | ښوونکي دخپل داډ تر لاسه کولو لپاره له زده کوونکو څو پوښتنې کوي. | |
| لومړني فعالیتونه | سلام، لنډه احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، دحاضرۍ اخیستل، دکورنۍ دندې له سموني وروسته له تېر لوست سره په اړیکه کې پر نوي لوست پیل کوي. | ۵ دقیقې |
| | انګیز وي پوښتنې:<br>تا سو کله پر پنسل باندې یو مرغان رسم کړیدی؟ | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | وخت |
| --- | --- |
| • الوتونکي پر تختې رسم کړئ او د رنګ ورکولو په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ.<br>• د رسمولو او رنګولو وروستي پړاو په اړوند معلومات ورکړئ.<br>• د هغه د کارونو څارنه وکړئ.<br>• د هغوې کارونه و ارزوئ. | ۳۵ دقیقې |

**کورنۍ دنده**

زده کوونکوته لارښوونه وکړئ چې الوتونکي د کتاب له مخې پړاو په پړاو رسم کړي.

**اضافي معلومات**

محترم ښوونکي: باید د رسامي هنر کې پر ځینو اصطلاحاتو و پوهیږي، په دې باید وپوهیږي چې سکیچ د رسامۍ په هنر کې در سمولو معنا ورکوي او په رسامۍ کې د اندازه ګیرۍ موضوع ډیره مهمه ده، زده کوونکو ته سم معلومات ورکړئ، له سیورې او روښانه پرخې د پرداز په وسیله د یوه شکل منظم سکیچ زده کوونکوته وښیې. هغوی ته د اندازې اخیستنې جزیات ور وښیې، د مثال په ډول: پنسل د څلورو ګوتو تر منځ باید ونیسي او د ښي لاس غټه ګوته باید د پنسل د نوکې خواته او ښي لاس په مستقیم ډول د انځور لوري ته چې رسم کوي یې، مستقیم اوږد کړئ او په ښی سترګه هغه وګورئ او کیڼه سترګه پټه کړئ، په هغه کې د انځور ژور والی، لوړوالی، کوچنیوالی او لویوالی د کاغذ پر مخ پر پنسل اندازه کړي، نقطې یې وټاکئ او بیایې رسم کړئ.

**ښاغلی ښوونکی: په دې کتاب کې د تدریس دلار ښود له بیا لیکولو څخه ډده شویده. تاسې کولی شي چې له دې لارښود څخه د ټولو لوستو په تدریس کې ګټه واخلئ.**